اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

# فیضانِ امام شافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه

دعائے عطار!: يارَبَّ الْمُصطفٰے! خوک چي دا رساله ”فیضانِ امام شافعي رحمۃُاللہِ علیہ“ اولولي یا ئي واوري، هغوئي ته د عِلمِ دِين لازواله دولت نصيب کړې او بے حسابه ئې اوبخښي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د درود شریف فضیلت

د امام شافعي رحمۃُاللہِ علیہ فرمان: زه د هر مسلمان د پاره دا خوښووم چي هغه په حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې کثرت سره درود شريف اولولي. (طبقات الکبریٰ للشعرانی، 74/1)

بیٹھتے اُٹھتے جاگتے سوتے — ہو الٰہی مرا شِعار دُرود
دل میں جلوے بسے ہوئے تیرے — لب سے جاری ہو بار بار دُرود

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د ښه سلوک بهترين مثال

منقُول دي چي يو ځل امام شافعي رحمۃُاللہِ علیہ په يو درزي قميص اوګنډلو. درزي ته د هغوئي مقام او مرتبه معلومه نه وه. هغه د ټوقو په غرض ښے لستوڼے دومره تنګ کړو چي په هغې کښې په مشکله د هغوئي رحمۃُاللہِ علیہ لاس ننوتلو او ګڅ ئې دومره کهلاؤ کړو چي په هغې کښې سر هم ننوتلے شو. د هغوئي رحمۃُاللہِ علیہ په خدمت کښې

چې کله قميص وړاندې کړے شو نو هغوئي اوفرمائيل: اللّٰه پاک دِ تاسو له جزائے خير درکړي! تنګ لستوڼړے د اودس د پاره ښه اوچتيږي او کهلاؤ لستوڼړے د کتاب ايښودلو د پاره مناسب دے. هغه وخت د خليفهٔ وخت قاصد لس زره درهم راوړل او د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خدمت کښې حاضر شو. هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هغه [قاصِد] ته ارشاد اوفرمائيلو: دې درزي ته د جامو ګنډلو پيسے ورکړه. درزي د قاصد نه د هغوئي په حقله پوښتنه اوکړه نو هغه اووئيل چې، دا بُزُرګ امام شافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دے. درزي چې دا واوريدل نو د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خدمت کښې ورمخکښې شو او د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ښپې مبارکې ئې ښکل کړې او معافي ئې اُوغوښتله. بيا ئې د هغوئي په خدمت کښې اوسيدل شروع کړل او د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په حلقهٔ احبابو کښې شامل شو. (الروض الفائق،ص208) د

د اللّٰه پاک دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي.

اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوږو اسلامي وروڼو! تاسو زمونږ د بزرګانو ښه اخلاق اوليدل؟ دا معامله اګرچې د غُصّے راوَستلو والا وه خو د انتقام نه اخستلو ښکلې جذبه لرونکي او د علم او حلم والا امام، حضرت امام شافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د شان نه قربان! چې هغوئي درزي معاف هُم کړو او اُجرت ئې هم ورکړو.

## د عزت او شرافت انتها

د کروړاؤ شافعيانو د امام، د دويمې صدئ هجرئ د عظيم تبع تابعي بُزرګ، حضرت امام شافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مبارک نوم محمد، کُنيت ابو عبد اللّٰه او د والد محترم نوم ئې اِدريس وو. د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه يو لقب ناصِرُ الحديث هم دے. هغوئي په عبادت کښې

شپې روڼوونکي، د دنيا د خوندونو نه لرې، د نيکئ دعوت ورکوونکي او د بدو نه منع کوونکي وو. د هغوئي شجرهٔ نسب د اللّٰه پاک د خوږ آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره ميلاويږي. "امام ابونُعَيم اَحمد بن عبدُالله اَصفَهانى شافعى رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه ليکي: د عزت او شرافت انتها دا ده چې د يو مسلمان خانداني تعلق د ټولو مخلوقاتو نه غوره هستئ محمد مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره ميلاويږي." (حلية الاولياء، 75/9، رقم: 13163، تاريخ بغداد، 66/2، رقم: 454)

## د مور بي بي محترمې خوب

د حضرت امام شافعي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د زيږيدلو نه مخکښې د هغوئي خوږې مور خوب اوليدلو چې مُشتري سياره د هغې د بدن نه جدا شوه او مصر کښې پريوتله. بيا د هغه ځائے نه هر ښار کښې د هغې رڼا خوره شوه. د خوب تعبير بيانوونکو اُووئيل چې هغه به داسې عالم زيږوي چې د هغوئي نه به خاص طور د مصر خلق فيض ترلاسه کوي او بيا د هغوئي نه د نورو ښارونو خلق. (تاريخ بغداد، 57/2، رقم: 454)

## وِلادتِ باسعادت

د کروړونو حنفيانو د عظيم امام، امامِ اعظم ابو حنيفه نعمان بن ثابت رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د عين وفات شريف په ورځ حضرت امام شافعي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په 150 هجرئ کښې فلسطين کښې په غَزَّه يا عَسقَلان کښې اوزيږيدلو. د هغوئي مبارک عمر چې کله دوه کاله شو نو د هغوئي پلار محترم د دنيا نه تشريف يوړلو. بيا د هغوئي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه مور بي بي هغوئي مکّے مُکَرَّمے ته بوتللو. په مکه شريفه کښې د هغوئي پرورش اوشو او عِلمِ دِين ئې حاصل کړو. (حلية الاولياء، 76/9، رقم: 1316713166، سير اعلام النبلاء، 380/8، رقم: 1539)

## د شعرونو لټون پرېښودل او د علمِ دين طلب شروع کول

حضرت امام شافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: زه چې وړوکے ووم نو ما به شعرونه تلاش کول او ليکل به مې، يوه ورځ مکه شريفه کښې، يا د مکے شريفې په يو اړخ کښې روان ووم چې ما يو غږ واوريدلو: ”اے محمد بن اِدريس! ته علم حاصل کړه.“ ما چې شاته اوکتل نو هيڅ څوک نه وو خو ما بيا علم حاصلول شروع کړل او د زړو جامو په ټوټو به مې د علم خبرې ليکلې او منګي کښې به مې اچولې تر دې پورې چې هغه ډک شو. زه يتيم ووم او زما د مور بي بي سره د تعليم د خرچ د پاره هيڅ هم نه وو.

(حلية الاولياء، 9/83، رقم: 13191)

## شوقِ علمِ دين

امام شافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بيانوي چې زما مور سره مُعَلِّم ته (يعني اُستاذ صاحب ته) ورکولو د پاره هيڅ نه وو، البته مُعَلِّم په دې رضا شو چې زه به د هغوئي د تللو نه پس د مدرسے نګراني کووم. ما د 7 کالو په عمر کښې قرآنِ کريم حفظ کړو او جمات ته مې تلل شروع کړل او د عُلمائے کرامو سره به کيناستم او حديث او (ديني) مسئلے به مې يادولې. مکه مکرمه کښې زمونږ کور وادیِ خَيف کښې وو. ما به چې څه ځليدونکے [يعني سپين صفا] هډوکے اوليدو نو په هغې به مې حديث او مسئلے ليکلې. چې کله به هغه هډوکے ډک شو نو هغه به مې يوه زړه [صفا سوتره] کنده کښې [ساتلو د پاره] واچولو. اللّٰه پاک هغوئي ته د علم دروازے پرانستلې تر دې پورې چې حضرتِ مُسلم بن خالد زَنجي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هغوئي ته د فتویٰ [ورکولو] ترغيب ورکړو او اوئې فرمائيل: ابو عبدُ الله! ته فتویٰ ورکوه. په اللّٰه پاک مې دِ قسم وي چې ستا د فتویٰ

ورکولو وخت راغلے دے حالانکه هغه وخت د امام شافعي عمر 15 کاله وو. (حلية الاولياء، 82/9، رقم: 13186، کتاب الثقات لابن حبان، 406/5، رقم: 2997، سير اعلام النبلاء، 380/8، رقم: 1539)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! ❀❀❀ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ژبه د امام شافعي فضيلت

د الله پاک خوږ آخري نبي، مکي مَدِني، محمدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائي: قريشو ته کنزل مه کوئ. بے شکه د هغوئي عالِم به زمکه د علم نه ډکه کړي.

امام ابوبکر حُسين بن احمد بَيهَقي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: زمونږ د عالمانو يوه ډله وائي چې دلته چې د کوم عالم ذکر شوے دے د هغې نه مراد حضرت امام شافعي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه دے او دغه خبره د امام احمد رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه نه هُم روايت ده. (معرفة السنن والآثار، 207/1)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! ❀❀❀ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د 40 کلونو دعا

امام احمد بن حَنبل رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: 6 کسان داسې دي چې د هغوئي د پاره زه په پيشمني کښې دعا کووم، په هغوئي کښې يو امام شافعي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه هُم دے. (تاريخ بغداد، 64/2، رقم: 454) حضرتِ يحيٰي بن سعيد قطان رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: زه (د 40 کالو نه د لمونځ نه پس) په خاص توګه د امام شافعي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د پاره دعا کووم (طبقات الشافعية الکبرىٰ، 249/1) او "حضرتِ ابوبکر بن خَلّاد رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: زه د هر لمونځ نه پس د امام شافعي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د پاره دعا کووم" (سير اعلام النبلاء، 383/8، رقم: 1539) ايوب بن سُوَيد رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: زه ګمان نه لرم چې زه به د امام شافعي نه پس د دوئي پشان بل عالم اووينم. (حلية الاولياء، 101/9، رقم: 13219) "مامونُ الرّشيد وائي: ما د امام شافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هر قسمه امتحان واخستو خو "ما هغوئي په هر امتحان کښې کامياب اوليدل". (سير اعلام النبلاء، 382/8، رقم: 1539)

## د مدینے د عالم امام مالک رحمۃ اللہ علیہ په خدمت کښې حاضري

حضرت امام شافعي رحمۃ اللہ علیہ د خپل ترۀ سره د مکّے مُکَرَّمے نه یمن ته تشریف یوړلو. چې کله ئې واپس تشریف راوړلو نو وروبے ئې د حضرتِ مسلم بن خالد زَنجِي او حضرتِ سُفیان بن عُیَینه نه سبق لوستلو، بیا د امام مالک رحمۃ اللہ علیہ په خدمت کښې د حاضریدو نه مخکښې ئې (د هغوئي د حدیثونو کتاب) ”مؤطّا امام مالک“ د لسو کالو په عُمر کښې حفظ کړلو، هغوئي فرمائي کله چې زما عمر 12 کاله شو نو زه د امام مالک رحمۃ اللہ علیہ په خدمت کښې حاضر شوم چې هغوئي ته ”مؤطّا امام مالک“ واوروم، امام مالک د وړوکي ګنړلو په وجه ما ته اوفرمائیل: څوک اوګوره چې ستاسو د پاره ئې اولولي. ما عرض اوکړو: باباجي مبارکه! که چرې تاسو ته زما لوستل بنه ښکاره شي نو زما نه ئې واورئ ګني بیا به زه څوک لوستونکے راولم. اوئې فرمائیل. اولوله. ما د هغوئې په وړاندې لوستل شروع کړل چې تر ”کتاب السیر“ پورې اورسیدم نو هغوئې ماته اوفرمائیل: بچیه! دا سنبال کړه [یعني یاد ساته] او نور د فِقه علم حاصل کړه او په هغې کښې لګیا اوسه. (حلیۃالاولیاء، 9/78–79 83ملتقطا)

## مجتهد چاته وئیلے کیږي؟

خوږو اسلامي ورونو! په اسلام کښې 100 یا د دې نه څه زیات مجتهدین تیر شوي دي. مجتهد هغه ته وائي، په چا کښې چې دومره علمي لیاقت او قابلیت وي چې په قرآني اشاراتو او رُموزو پوهیږي او د کلام مقصد پیژني او د هغې نه مسئلے راویستلے شي، د ناسخ او منسوخ پوره علم لري. په علمِ صَرف و نحو، بلاغت وغیره کښې پوره پوهه لري، د اَحکامو په ټولو آیتونو او حدیثونو نظر لري. (اعلیٰ حضرت سے سوال جواب، ص44)

حضرت امام شافعي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ مجتهدِ مُطلق او د فِقهٔ شافعي باني دے. د هغوئي مُقَلِّدينو ته شَوافِع وئيلے کيږي. دنيا کښې د اَحنافو نه پس د ټولو نه زياته شميره د شَوَافِعو ده. اللّٰه کريم امام شافعي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ ته ډير مقبوليت ورکړے وو. صحيحُ العقيده که حنفي وي او که شافعي، که مالکي وي او که حنبلي ټول خپل مينځ کښې وروڼړه وروڼړه دي. اَلۡحَمۡدُلِلّٰه! د دوئي خپل مينځ کښې هيڅ تَعصُّب نشته او تَعصُّب به ولے وي ځکه چې په څلور واړو امامانو مجتهيدينو کښې تَعصُّب نه وو نو د هغوئي منونکي به څنګه تَعصُّب اوکړي. په دنيا کښې چې چرته هم شافعي، مالکي يا حنبلي ښې عقيدې والا وي هغوئي زمونړه اسلامي وروڼړه دي. اللّٰه پاک دِ مونړ ته د دغه څلور واړو بزرګانو رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہِم فيضان رانصيب کړي.

مالکی ہو حنبلی ہو حنفی ہو یا شافعی　　　مت تَعَصُّب رکھنا اور کرنا نہ ان سے دشمنی

(وسائلِ بخشش،ص699)

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د امام مالک امام شافعي ته ډالئ

امام شافعي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: ما مدينه منوره کښې د امام مالک رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ په دروازه کښې د خُراسان يا مِصر اسونه تړلي اوليدل کوم چې هغوئي ته د ډالئ [يعني تُحفے] په توګه ورکړے شوي وو، ما کله دومره اعلٰی قسم اسونه نه وو ليدلي. نو ځکه ما عرض اوکړو: "دا اسونه څومره ښه دي!" "اوئې فرمائيل:" دا ټول زه تاله په ډالئ [تُحفه] کښې درکوم." ما عرض اوکړو:" يو اس ځان له خو پريږدئ. اوئې فرمائيل: "ما له د اللّٰه پاک نه حيا راځي چې زه هغه مبارکه زمکه د اس د ښپو لاندې راولم، په کومه کښې چې د

هغه خوږ خوږ آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم موجود دے يعني د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم روضهٔ مبارکه پکښې ده.“ (احياء العلوم، 48/1. الروض الفائق، ص 217)

ہاں ہاں رہِ مدینہ ہے غافِل ذرا تو جاگ　　　او پاؤں رکھنے والے یہ جا چشم و سر کی ہے
(حدائقِ بخشش، ص 217)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❀❀❀ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## مدينه کښې ښپې ابله کرځيدل د عاشقانو طريقه ده

اے عاشقانِ رَسُول! د عاشقانو انداز عجيبه وي، د محبوب سره د نسبت لرونکي هر خيز سره مينه کوي. د امام مالک رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه پشان بزرګ چا ته چې د مدينے عالم وئيلے کيدو، په مدينه کښې به ښپې ابله ګرځيدلو. يوه خو هغه د برکت نه ډکه زمانه وه او يوه اوس ده چې بعضې ناپوهه مدينه منوره کښې د ښپې ابله ښپې ګرځيدو په معامله کښې په شيطاني وسوسو کښې اخته دي، ياد ساتئ! هره هغه خبره کومه چې د شريعت او دين خلاف نه وي جائز ده او په جائز کار مسلمان ته پيغور ورکول او وريسې توقې ټقالې کول ډير د ګناه کار دے. مونږ ته د خپلو بزرګانو اقوال و افعال [يعني هر کار] په پټو سترګو قبول دے. اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم مونږ به د هيڅ چا په شيطاني وسوسو کښې نه راځُو ځکه چې

ہم عشق کے بندے ہیں کیوں بات بڑھائی ہے

## د ”سخي“ د دريو حرفونو په نسبت د امام شافعي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د سخاوت درې واقعات

## (1) د سرو زرو 1000 سِکّے ئې تقسيم کړې

يو ځل د خليفه هارون رشيد په حکم امام شافعي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه ته زر ديناره ورکړے

شو نو هغوئي قبول کړل. خليفه خپل خادم سِراج ته اووئيل: دوئي پسې روان شه چې دوئي څه کوي. خادم په دوئي پسې وروستو روان شو. هغه اوليدل چې هغوئي رحمۃ اللہ علیه کور ته واپس تللو کښې په لاره خلقو له ډک ډک موتي ديناروﻧﻪ ورکول، تر دې پورې چې د کور دروازے ته اورسيدلو نو صرف يو موټے ديناروﻧﻪ ورسره پاتې وو، هغه ئې هم خپل خادم ته ورکړل او هغه ته ئې اوفرمائيل: دې نه فائده واخله. سِراج ستړګو ليدلے حال هارون رشيد ته بيان کړو نو هغه اووئيل چې په دې وجه د دوئي زړه بے نيازه او ملا مضبوطه ده. (حلیۃ الاولیاء،9/139،رقم:13410)

## (2) 50 زره ديناره

يو ځل د حضرت امام شافعي رحمۃ اللہ علیه خوا ته هَرثَمَه راغلو او د خليفه هارون رشيد سلام ئې ورته اورسولو، او اُوئې وئيل چې خليفه تاسو له د 50 زره ديناره درکولو وئيلي دي. هغه مال تاسو ته راورسولے شو، هغوئي نائي راوغوښتو او هغه د هغوئي ويښته واړه کړل نو هغوئي ورله 50 ديناره ورکړل، بيا ئې د کپړے په ټوټو کښې د ديناروﻧﻮ وړې تهيلئ جوړې کړې او خومره د قريشو خلق چې هلته موجود وو او څوک چې په مکه مکرمه کښې وو هغوئي له ئې ورکړل تر دې پورې چې هغوئي کور ته اورسيدلو نو هغوئي سره د 100 ديناره نه هم کم پاتې وو. (حلیۃ الاولیاء،9/140،رقم:13413)

خوږو اسلامي وروڼو! سخاوت ډير ښه عادت دے، الله کريم! دِ مونږ له هم په خپلو مسلمانانو وروڼو په ښه نيت سره د مال خرچ کولو توفيق رانصيب کړي. د الله پاک د رضا د پاره د الله په لار کښې په خرچ کړے شوي مال د اجر او ثواب ميلاويدو سره سره سخي انسان په دنيا کښې هم عزت ګټي او د خلقو په زړونو کښې د هغه مينه

زياتيږي او تنګ لاسے کنجوس [شوم انسان] د آخرت سره سره په دنيا کښې هم د خلقو نظر کښې ذليله وي. بے د شَرعي ضرورته چاته لاس نه دي نيول پکار ځکه چې سوال که چرې د کم قيمت هم وي نو د نورو نظر کښې د بنده عزت کموي. امام شافعي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه صرف سخي نه وو بلکه په اللّٰه پاک توکل کوونکے د مُرَوّت ډک او د اخلاقو نمونه وو. د هغوئي په مبارکه ګوتمه دا ليکلي وو: کَفٰی بِاللّٰهِ ثِقَةٌ لِمُحَمَّدِ بْنِ اِدْرِيْس يعني د محمد بن ادريس د پاره په اللّٰه پاک اعتماد کول کافي دي. (طبقات للشعرانی،74/1)

## (3) شاګردانو سره ښه سلوک

ابو ثَور رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: امام شافعي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه به د سخي کيدلو په وجه ډير کم ځان سره څه ساتل. (حلية الاولياء،141/9،رقم:13418) امام مُزَني رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه بيانوي چې ما د امام شافعي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه نه زيات سخي څوک نه دے ليدلے، د اختر په شپه په يوه مسئله باندې خبرو اترو کښې د هغوئي سره زه د جمات نه را اُووتم، مونږ چې کله د هغوئي دروازے ته اورسيدلو نو يو غلام راغے او هغوئي ته ئې اووئيل: زما آقا تاسو ته سلام وئيلے دے او د پيسو دا تهيلۍ ئې ستاسو د پاره راکړې ده. هغوئي هغه تهيلۍ واخستله او خپل لستوني کښې ئې کيښودله، په دې کښې د هغوئي يو شاګرد راغے او عرض ئې اوکړو: اے ابو عبدُ اللّٰه! اوس اوس زما يو ماشوم پيدا شو او زما سره هيڅ نشته. هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه هغه تهيلۍ هغه له ورکړه او پخپله تش لاس کور ته لاړلو. (حلية الاولياء، 140/9،رقم:13415) حضرتِ ربيع بن سليمان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: چې ما کله واده اوکړو نو امام شافعي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه زما نه پوښتنه اوکړه: مهر څومره دے؟ ما عرض اوکړو: 30 ديناره. هغوئي اوفرمائيل: څومره دِ ورکړي دي؟ ما عرض اوکړو: شپږ ديناره. نو هغوئي

رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه کور ته لاړلو او ماله ئي يوه تهيلۍ راوليږله چې په هغې کښې 24 ديناره وو. (حلية الاولياء،9/140،رقم:13414)

## د دوو ځيزونو شوق

حضرت امام شافعي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: زما دوه ځيزونه ډير خوښ وو. (1) غشي ويشتل او (2) علم حاصلول. ما په غشو ويشتلو کښې دومره مهارت حاصل کړے وو چې لس غشي به مې ويشتل نو لس واړه به په نښه لګيدل. راوي وائي چې د علم په حقله هغوئي خاموشه پاتې شول نو ما عرض اوکړو: په الله پاک مې دِ قسم وي! علم کښې خو تاسو د خپلو غشو ويشتلو نه هم زيات ئي. (حلية الاولياء،9/86،رقم:13196)

## د امام شافعي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه ګيره مبارکه

امام مُزَني رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: ما د امام شافعي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه نه زيات ښکلے څوک نه وو ليدلے. د هغوئي اننګي مبارک نري نري وو او د هغوئي ګيره مبارکه يو موټے وه. چې په ګيره مبارکه به ئي لاس کيښودلو نو د يو مُوټي نه به زياته نه وه، په ګيره مبارکه به ئي نکريزي لګولې او خوشبو به ئي ډيره خوښوله. (سير اعلام النبلاء،8/379،415،رقم:1539)

## مسجد حرام کښې د ديني مسئلو بيانولو ديني حلقه

اے د اولياؤ عاشقانو! مَکّه مُکرَّمه مسجد حرام کښې د فتویٰ حلقه د صحابئ رسول حضرتِ عبدُ الله بن عباس رَضِىَ اللهُ عَنْهُمَا سره وه، د هغوئي نه پس به عظيم تابعي بُزرګ حضرت عطا بن اَبي رَباح رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه دا حلقه لګوله. بيا به حضرتِ عبدالمَلِک بن عبدالعزيز بن جُرَيج رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فتویٰ ورکوله. د هغوئي نه پس حضرت مسلم بن خالد

زَنجي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه ته اوسپارلے (یعني حواله) شوه، بیا په دې منصب باندې سعید بن سالِم قدَّاح رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه او د هغوئي نه پس حضرت امام محمد شافعي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه تشریف فرما شولو او هغه وخت هغوئي ځلمے وو. (حلیةالاولیاء،100/9،رقم:13216)

## د عافیت سوال اوکړئ

یو ځل حضرت امام شافعي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه ډیر زیات ناجوړه شولو او دا دُعا به ئې کوله: اے اللہ پاکه! که په دې ناجوړتیا ته رضا ئې نو نوره ئې زیاته کړې. نو د ښار د اړخونو نه حضرتِ ادریس بن یحیٰي مَعافِرِی رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه هغوئي ته یو خط راولیږلو: "اے ابو عبد اللہ! زمونږ د پاره ښه دا دي چې مونږ د اللہ پاک نه د عافیت سوال اوکړو." دې نه پس حضرت امام شافعي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه د خپل قول نه رجوع اوکړه او عرض ئې اوکړو: "زه د اللہ پاک نه بخښنه غواړم او د هغه په بارګاه کښې توبه کووم. بیا به هغوئي داسې دعا کوله: اَللّٰهُمَّ اجۡعَلۡ خَيۡرَ لِيۡ فِيۡمَا اُحِبُّ یعني اے اللہ پاکه! زما خیر په هغه کارونو کښې کیږده کوم چې زه خوښووم. (قوت القلوب،270/1ملتقطا)

## استاذ به هم [خلق] د شاګرد خوا ته لیږل

د امام شافعي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه نمسے احمد بن محمد رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه فرمائي: ما د خپل پلار محترم او خوږ ترۀ نه اوریدلي دي چې کله به د حضرت سُفیان بن عُیَینه رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه نه د تفسیر او د خوب د تعبیر په حقله څه تپوس اوکړے شو نو هغوئي به امام شافعي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه ته مُتَوَجِّه شولو او فرمائیل به ئې: د دې خبرې تپوس د دوئي نه اوکړه.

(حلیةالاولیاء،98/9،رقم:13207)

# امام شافعي، د امام محمد په خدمت کښې

خوږو اسلامي وروڼو! د فقۀ حنفي لوئې امام، امام اعظم شاګردِ رشيد امام محمد بن حسن شَيباني رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د امام شافعي په استاذانو صاحبانو کښې دے. کله چې امام شافعي عراق ته تشريف يوړولو نو د امام اعظم د ټولو نه قابل شاګرد حضرت امام ابو يوسف رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دُنيا نه سفر کړے وو. (تاريخ بغداد، 55/2، رقم: 454، سير اعلام النبلا، 397/8، رقم: 1539) امام محمد رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د حضرت امام شافعي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د کونډې مور محترمې سره نکاح کړې وه او امام شافعي له ئې خپل ټول دولت او کتب خانه ورکړې وه. د امام شافعي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د فقيه او مجتهد کيدلو د ټولو نه لوئې حقيقي سبب هم دا دے، پخپله امام شافعي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: خوک چې د فِقه علم حاصلول غواړي نو هغوئي له د حضرت امام اعظم ابو حنيفه او د هغوئي د تلامِذه او ملګرو (رَحِمَهُمُ اللّٰه) لـمن نيول پکار دي ځکه چې حقائق په هغوئي منکشف (يعني پرانستے) شوي دي او معانو او مفاهيمو ته رسيدل د هغوئي د پاره آسان کړے شوي دي. بيا ئې اوفرمائيل: په اللّٰه پاک مې دِ قسم وي! زه به چرې هم فقيه (يعني عالم) نه ووم که چرې ما د محمد بن حسن شَيباني رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه لـمن نه وه نيولې او د هغوئي کتابونه زما سره نه وے. (بهارِشريعت، 1040/3، حصه:19بتغير) حضرتِ ربيع بن سليمان رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: ما د امام شافعي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه نه اوريدلي دي چې ما د امام محمد رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه نه د بُختي اوښ د بار همره علم حاصل کړو او هغه هر څه ما پخپله اوريدلي دي. (حلية الاولياء، 86/9، رقم: 13198) په يوه موقع امام شافعي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه ارشاد اوفرمائيلو: په فقه کښې چې په ما د کوم کَس زيات احسان دے هغه د امام محمد بن حسن شَيباني رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه دے. (تاريخ بغداد، 173/2، رقم: 593)

## انسان ولے پيرېږي؟

د امام شافعي رحمۃُاللہِ علیہ فرمان: د امام محمد رحمۃُاللہِ علیہ نه علاوه بل يو پيرېږ گس هم کامياب نه شو. پوښتنه اوکړے شوه چې دا ولے؟ اوئي فرمائيل: ځکه چې عقلمند گس کښې د دوو نه يو عادت ضرور وي يا به هغه د آخرت د پاره غمژن وي او يا به د خپلې دنيا د پاره، او د غم سره وازگه نه زياتيږي، ځکه چې بنده کله د دواړو غمونو نه خالي شو نو هغه د ځناورو صف ته لاړو او وازگه پرې زياته شوله. (حلية الاولياء، 9/155، رقم:13495)

بَہت کھانے پینے سے پرہیز کرنا　　　کہ بِسیار خوری میں نقصاں بڑا ہے

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! ❀❀❀ صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د امام شافعي د امامِ اعظم سره عقيدت او مينه

د امام شافعي رحمۃُاللہِ علیہ به د امام اعظم، ابوحنيفه رحمۃُاللہِ علیہ په بارگاه کښې د اَدب او احترام دا حالت وو چې هغوئي فرمائي چې زه د حضرت امامِ اعظم ابو حنيفه رحمۃُاللہِ علیہ نه برکت حاصلووم او د هغوئي قبر ته حاضريږم او کله چې ما ته څه ضرورت راپيښ شي نو زه دوه رکعته نفل لـمونځ اوکړم او د هغوئي د قبر خوا ته لاړ شم او د خپل ضرورت د پاره د الله پاک نه سوال اوکړم نو زما هغه ضرورت زر پوره کيږي او يو مُستند روايت دا دے چې حضرت امام شافعي رحمۃُاللہِ علیہ د سحر لـمونځ د امام اعظم رحمۃُاللہِ علیہ د مزار مبارک سره نزدې اوکړو نو په هغې کښې ئې قُنوت اونکړلو. حالانکه شَوَافِع قُنوت د سحر په لـمونځ کښې کوي. چا د هغوئي نه پوښتنه اوکړه چې حضور دا مو څه اوکړل؟ تاسو سحر کښې قنوت اونکړل. هغوئي په جواب کښې اوفرمائيل: دا د دې قبر د صاحب ادب او احترام دے. (بهارِ شريعت، 3/1046، حصه:19)

ہے نام نُعمان ابنِ ثابِت، ابو حنیفہ ہے ان کی کُنیت
پکارتا ہے یہ کہہ کے عالَم، امامِ اعظم ابو حنیفہ

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د اولیائے کرامو د مزاراتو برکتونه

اے د اولیاؤ عاشقانو! د دې واقعې نه دا هم معلومه شوه چې د اولیائے کرامو رَحِمَهُمُ اللّٰه مزاراتو ته تګ د اللّٰه پاک د نیکانو بندګانو زړه طریقه ده. څوک چې بے وجهې د اولیائے کرامو د مزاراتو نه خلق منع کوي هغوئي په سخته غلط فهمئ کښې دي، هغوئي له پکار دي چې د دې شیطاني وسوسو نه ځان بچ کړي او پخپله هم مزاراتو مبارکو ته ځي او عاشقانِ رسول هم د حاضرئ نه نه منع کوي. البته که چرې د مزار شریف په خوا کښې څه غیر شرعي معامله وي یا بے پردګي وغیره وي نو هغه په زړه کښې ضرور بده ګڼړئ خو د دې وجهې نه ځان د حاضرئ نه محرومه کول سخته ناداني ده. که چرې په پوزه مچ کښیني نو مچ پاڅول پکار دي، خپله پوزه پریکول نه دي پکار.

## د اسلام وړومبے خلیفه

حضرت امام شافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د حضرت ابوبکر صدیق رَضِیَ اللهُ عَنْهُ په خلافت خلقو اتفاق اوکړو، بیا هغوئي حضرت عمر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ خلیفه جوړ کړلو. او هغوئي د شپږو کسانو شُورئ جوړه کړه چې په خپلو کښې یو خلیفه کړي نو شُورئ خلافت حضرت عثمان رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ته حواله کړو. وجه دا وه چې د رسولُ اللّٰه صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه پس خلق ډیر بے قراره وو او هغوئي د آسمان نه لاندې د حضرت ابوبکر

صديق رضی اللہ عنہ نه بل څوک ښه اونه موندلو نو هغوئي ئې خپل خليفه جوړ کړلو. (حلية الاولياء، 122/9، رقم:13324) حضرت ربيع رحمۃ اللہ علیه فرمائي: ما د امام شافعي رحمۃ اللہ علیه نه دا اوريدلي دي چې د رسولُ الله صلی اللہ علیه واٰله وسلّم نه پس په خلقو کښې د ټولو نه غوره حضرت ابوبکر بيا حضرت عمر بيا حضرت عثمان او بيا حضرت علي رضی اللہ عنهم دے. (حلية الاولياء، 122/9، رقم:13324)

سايۂ مايۂ اِصطفٰی مصطفٰی عِزّ و نازِ خلافت په لاکھوں سلام
يعنی اُس اَفضَلُ الْخَلْق بَعْدَ الرُّسُل ثَانِیَ اثْنَیْنِ ہجرت په لاکھوں سلام

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❀❀❀ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د خوږ نبي ﷺ د اُمت د پاره دعاګانې

حضرت حسن کَرَابِيسي رحمۃ اللہ علیه فرمائي چې ما د امام شافعي رحمۃ اللہ علیه سره ډيرې شپې تيرې کړې دي. هغوئي به تقريبا د شپې په دريو کښې يوه حصه لمونځ کولو او ما هغوئي د 50 نه زياتو آيتونو لوستلو باندې نه دے ليدلے، که چرې زيات به ئې اولوستل نو 100 به ئې اولوستل او کله چې به د رحمت آيت ته اورسيدلو نو د الله پاک په دربار کښې به ئې د ځان د پاره او د خپلو ټولو مسلمانانو د پاره د رحمت دعا کوله او چې کله به ئې هم د عذاب والا آيت اولوستلو نو د هغې نه به ئې پناه غوښتله او بيا به ئې د ځان او ټولو مسلمانانو د پاره د هغې نه نجات غوښتلو. (معرفة السنن والآثار، 196/1)

## د الله پاک د ويرې نه بے هوشه شولو

د امام شافعي رحمۃ اللہ علیه په مخکښې يو ځل په ښکلي آواز کښې دا آيتونه مبارک تلاوت کړے شو:

| | |
|---|---|
| هٰذَا يَوْمُ لَا يَنْطِقُوْنَ ﴿۳۵﴾ وَ لَا يُؤْذَنُ لَهُمْ فَيَعْتَذِرُوْنَ ﴿۳۶﴾ (پ29، المرسلٰت:35، 36) | [مَفھُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: دا [هٰغه] ورځ ده چې هغوئي به خبرې نه شي کولے. او نه به هغوئي ته اجازت ورکولے کيږي چې عذر اوکړي. |

نو د هغوئي رنګ بدل شو، غونے پرې زِيږ زِيږ شولو او بدن مبارک ئې په رپيدلو شو او بے هوشه شولو او زمکې ته ئې تشريف راوړلو. کله چې ئې طبيعت لږ ټيک شو نو د الله پاک په بارګاه کښې ئې عرض اوکړو: اے الله پاکه! زه د دروغژنو د ځائے او د غافلو خلقو د مخ اړولو نه ستا پناه غواړم. اے الله پاکه! ستا د پيژندګلو لرونکو زړونه تاته تيټ شول او ستا د ملاقات د شوق لرونکوسرونه ستا د هيبت په وړاندې ښکته شول. اے زما مالکه او مَولٰی! په ما خپل فضل او کرم اوکړې او ما د خپلې بخښنې په پرده کښې پټ کړې او په خپل لُطف او کرم زما کوتاهۍ معاف کړې. (احياء العلوم، 45/1)

یاخدا میری مغفرت فرما باغِ فردوس مَرحَمت فرما
تُو گناہوں کو کر مُعاف اللہ! میری مقبول معذِرت فرما

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## عبادتونه او نيک عادتونه

حضرت امام شافعي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه شپه په دريو برخو کښې تقسيم کړې وه: يوه برخه د علم د پاره، يوه برخه د عبادت د پاره او يوه برخه د آرام د پاره. (حلية الاولياء، 143/9، رقم:13431) هغوئي به په رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې د قرآن کريم 60 ختمونه کول او ټول به ئې په لمونځ کښې ختمول. (حلية الاولياء، 142/9، رقم:13426) هغوئي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائيلي دي: ما چرې هم د الله پاک په رښتيا يا د دروغو قسم نه دے خوړلے او نه مې چرته دروغ وئيلي دي. (حلية الاولياء، 136/9، رقم:13391)

اے د امامِ شافعي عاشقانو! کاش! چې مونږ ته هم هره ورځ د قرآن کريم څه نه څه د لوستلو، اوريدلو سعادت نصيب شي، کاش! چې مونږ ته هُم د اللّٰه پاک د ويرې ژړيدل رانصيب شي، د ګناهونو نه توبه هُم رانصيب شي. د اللّٰه پاک په بارګاه کښې په سجده پريوتل رانصيب شي. پينځه واړه لمونځونه د جَمعې سره په پابندئ سره ادا کول رانصيب شي. کاش چې د امام شافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په وسيله زمونږ د خُلې نه هُم هيڅ کله دروغ اونه اوځي. په ټوقو کښې هم دروغ نه دي وئيل پکار. ځينې سوداګر د سودا خرڅولو د پاره د اللّٰه پاک په نوم د دروغو قسمونه هُم خوري. د دروغو قسم خوړل کبيره (يعني لويه) ګناه او جهنم ته بوتلونکے کار دے. د دروغو قسم مال خرڅ کړي خو برکت ختم کړي. په ورو وروه خبره قسم خوړونکے خپل اعتماد ختم کړي بيا خلق په هغه باور نه کوي. اګر که بيا هغه رښتيا هم وائي. د 72 نيکو اعمالو مطابق ژوند تيروئ. اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيْم د دين و دنيا بے شماره خيرونه به په لاس درشي. دې سره سره **عاشِقانِ رَسُول** سره د سنتو زده کولو او نورو ته ښودلو د پاره په مدني قافلو کښې سفر کوئ. په رزق کښې د برکت سره سره به مو په نيکئ کښې د برکت ذهن هُم جوړ شي او د ګناهونو نه بچ کيدو کښې به مو مدد هُم کيږي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ✿✿✿ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد